### واجب
هغه دی چې په یو وجیبه او یا د دین په ورکړه کې او یا هم د یو عین او مال په تسلیمولو کې منځ ته راځي.
دری: [واجب]

### واجب التأدیه
هغه حالت دی چې د یو دیني حق په ورکړه کې قطعیت او الزام څرګندوي. دری: [واجب التأدیه]

### واجب التنفیذ حکم
د اصلاحي حکمونو څخه بغیر د محکمو هر هغه صادر شوی حکم ته ویل کیږي چې په قا نوني توګه باید پلې شي. دری[ حکم واجب التنفیذ]

### وارداتي محصول
د مالونو په واردولو باندې ګمرکي محصول دی.
دری:[محصول وارداتی]

### واقعي تعدد
هغه ګڼ شمیر جرمونه چې په هیڅ یو کې د محکمې قطعي حکم نه وي صادر شوی. دری: [تعدد واقعی]

### واقعي مجازات
په مجرم باندې د جرم مکمل مجازات او مشقت تحمیلول. دری: [مجازات واقعی]

### واقعي ید
د محسوس، مادي او اجرائي تصرف څخه عبارت دی. (ید ته دې مراجعه وشي). دری: [ید واقعی]

### واقف (وقف کوونکی)
هغه شخص دی چې کوم مال د تبرع او خیریه چارو لپاره د عامو وګړو کارونې او ګټې ته ورکوی.(وقف ته دې رجوع وشي). دری:[واقف (وقف کننده)]

### واکمنه محکمه
هغه واکمنه محکمه چې د ټولو هغو قضیو په اړوند چې یې تر واک لاندې حوزه کې پیښیږي، د رسیدنې حق لري. دری:[ محکمه با صلاحیت]

### واهب
بخشش کوونکي شخص ته واهب ویل کیږي.
دری: [واهب]

### واهن
په هغه شخص باندې اطلاق کیږي چې بل چاته توهین کوي. دری: [واهن]

### وثیقه
یو ډول او یا څو ډوله شتمني، حقوق او یا سندونه دي چې د اخیستونکو او یا صادروونکو د تضمین په عنوان د عامل بانک په اختیار کې ایښودل شوي وي. دری:[وثیقه]

### وجوه شرکت
هغه شرکت دی چې د شریکانو د اعتبار پر بنسټ رامنځته کیږي. (شرکت ته دې مراجعه وشي).
دری: [شرکت وجوه]

### وجه
له هغو نقودو او پیسو څخه عبارت دی چې د حکمي یا حقیقي شخصیتونو ملک ګرځېدای شي. دری: [وجه]

### وجیبه (تعهد)
وجیبه هغه اړیکې او مناسبات دي چې د دوو اشخاصو ترمنځ ټینګ او د هغو له مخې یو شخص د بل شخص په وړاندې د یوه شي سپارلو، د یوه کار ترسره کولو او یا هم د کار نه تر سره کولو ته اړ یږي. دری:[وجیبه (تعهد)

## وچکالي

هغه کال چې په هغه کې د باران او واورې ورېدل په کلُي او یا قسمي توګه صورت نیولی نه وي او د حبوباتو او نباتاتو د اتلاف او یا د نه شنه کېدلو لامل ګرځېدلی وي. دری: [خشک سالی]

## ودیعت ایښودونکی

هغه شخص دی چې مال د ودیعت په توګه ږدي. (ودیعت ته دې رجوع وشي). دری:[ودیعت گذار]

## ودیعت

ودیعت هغه عقد دی چې د هغه په موجب یو شخص خپل مال بل چاته ددې لپاره چې هغه مال وساتي، سپاري. دری:[ودیعت]

## ودیعت اخیستونکی

هغه شخص ته ویل کیږي چې د بل چا مال د ودیعت په توګه اخلي. (ودیعت ته دې رجوع وشي). دری:[ودیعت گیرنده]

## وراثت

هغه شرعي وصف دی چې د هغه په اساس مستحق افراد د خپل مورث څخه د ارث مستحق ګرځي. دری: [وراثت]

## ورثه

هغه اشخاص دي چې د وراثت له حصر وروسته د اړوندې محکمې له خوا د متوفی د موروثي مال مستحق وپېژندل شي. دری:[ورثه]

## ورځپاڼې

له هغو چاپي نشریو څخه عبارت دي چې په ورځنې توګه چاپ او نشر ته سپارل کیږي. دری:[روزنامه]

## ورود

هغه حالت دی چې د قانونګذار (قانون جوړوونکی) په وړاندې دوه دلیلونه شتوالی ولري او قانون جوړوونکی له هغو څخه یو له ارجحیت نه غورځولی او له دلیل توب څخه یې باسي. دری: [ورود]

## وروستنۍ غوښتنه

هغه ده چې محکوم علیه د ولایت د محکمې پر حکم خپل شکایت او اعتراض د تمیز محکمې ته وړاندې کوي. دری: [فرجام خواهی]

## وروستنی حکم

د باصلاحیته محکمې صادر شوی حکم ته ویل کیږي چه د تطبیق او تنفیذ وړدی. دری: [حکم نهایی]

## وروستۍ دفاع د محکمې په مخه

هغه دفاع او څرګندونې چې متهم ئې په وروستي فرصت کې چې د محکمې له خوا د هغه په باب ورکول کیږي د نسبتي اتهام په وړاندې، له خپلې لورې وړاندې کوي. دری: [آخرین دفاع در محضر محکمه]

## وروستی پېرودونکی

هغه پېرودونکي ته ویل کیږي چې یو شئ په یوه ټاکلي بیه اخلي او که چیرې بیه لوړه شي د هغه له پیرودنې څخه ډډه ونکړي. دری: [خریدار نهایی]

## وروستی ثمن

هغه ټاکل شوي آخرینی پیسې چې د مزایدې په یو عقد کې د معاملې دواړه خواوې په هغه باندې موافقه وکړي. دری :[ ثمن نهایی]

## وسله وال پاڅون

د دولتي حاکمیت پرضد د اشخاصو پاڅون دی چې دولت یې راپرځولی وي. دری:[قیام مسلحانه]

## وسله وال قاچاق
د یوه یا څو تنو له خوا چې لږ تر لږه یو تن یې وسله وال وي، د ممنوع الورود او ممنوع الصدور اجناسو له وړلو، ساتنې او یا پېرودلو او پلورلو څخه عبارت دی.
دری:[قاچاق مسلحانه]

## وسله واله غلا
د داسې عمل له ارتکاب څخه عبارت دی چې د وسلې په زور وي. (غلا ته دې مراجعه وشي).
دری:[ سرقت مسلحانه]

## وسیط
هغه شخص ته ویل کیږي چې د عقد ونو په انعقاد کې د عقد د دواړو خواوو په مینځ کې واسطه وي.
دری: [وسیط]

## وسیط نماینده
هغه کس چې د پلورلو او پېرودلو په اړه د مولدینو او پرچون پلورونکو ترمنځ خبرې او وساطت کوي پرته له دې چې د تصرف حق او یا د مالونو د ملکیت عنوان خپل کړي. دری: [نمایندهٔ وسیط]

## وسیع تفسیر
د قانون تفسیروي په دې شرط چې اصل محتوی ته تغیر نه ور کوي. دری: [تفسیر وسیع]

## وصي
وصي هغه څوک دی چې د موصي له خوا، د هغې د وصیتونو د ترسره کولو لپاره ټاکل کیږي. دری:[وصی]

## وصیت
وصیت په ترکه کې هغه تصرف دی چې د وصیت کوونکي تر مړینې وروسته اغیزه ولري. دری:[وصیت]

## وصیت کوونکې باندې حجز
د وصیت کوونکی منع کول دی د محکمې په حکم.
دری: [حجز به وصیت کنندهٔ]

## وصیت لیک
هغه پاڼه چې پکښې شخص تر خپلې مړینې مخکښې په خپلو مالونو او شتمنۍ کې د قانوني تصرفاتو ترتیب ثبتوي. دری: [وصیت نامه]

## وضیعه بیع
د لومړي ثمن څخه په ټیټه بیه خرڅلاو ته ویعه بیع ویل کیږي. (وګورئ بیع). دری: [بیع وضیعه]

## وطی
د نر او ښځې او یا میږه او ښځې ترمنځ جنسي یوځای کېدل دی، اعم له دې څخه چې د صحیح شرعي ازدواج په اثر صورت ونیسي او یا له هغې څخه بهر، چې هدف یې یو د بل څخه استمتاع او یا هم تولد او تناسل دی.
دری: [وطی]

## وظیفوي مکلفیت
د هغه کار سرته رسول چې مؤظف شخص یې د دندې د سرته رسولو په وخت کې ترسره کوي او د قانون له احکامو سره برابروي. دری: [مکلفیت وظیفوی]

## وعده
عبارت دی د شخص یا اشخاصو خبر ورکول یو شخص یا اشخاصو ته پدې مبنأ چې په راتلونکي کې به تړون لاس لیک کیږي او یا د هغوی ترمنځ به حقوق یا تعهدات انتقال شي. دری: [وعدهٔ]

## وفا بیعه
هغه بیعه ده چې پکې شرط اېښودل شوی وي، کله چې پلورونکی، پیرودونکی ته د مبیعې ثمن ورکړي نو بیا به پیرودونکې ده ته مبیعه ور وسپاري. دری:[بیع وفا]

## وقایوي طب
له هغه علم څخه عبارت دی چې د مرضونو له واقع کېدلو څخه مخکې جامعه وقایه کوي.
دری: [طب وقایوی]

## وقايوي تدبيرونه
هغه مخکيني تدبيرونه چې د ذيصلاح مقاماتو له خوا د جرم د ارتکاب د مخنيوي په موخه نيول کېږي.
درى: [تدابير وقايوى]

## وقف
د عامه ګټې او خيريه چارو په منظور د يوې ټاکلې موخې د تأمينېدو په مقصد د څښتن له تصرف څخه د يوه مال ايستل دي. درى:[وقف]

## وقف شوې ودانۍ
هغه ودانۍ او عمارت دی چې د يوې خاصې طبقې او يا عامو وګړو د استعمال لپاره وقف شوې وي.
(وقف ته دې مراجعه وشي). درى: [بناى وقفى]

## وقفي ځمکې
هغه ځمکه ده چې د واقف له ملکيت څخه بهر او د موقوف عليه په ملکيت پورې اړه ونلري.
درى:[زمين وقفى]

## وکالت
وکالت هغه عقد دی چې د هغې په موجب مؤکل يو بل شخص د قانوني او معلومو تصرفاتو په اړوند، د خپل قايم مقام په توګه ټاکي. درى:[وکالت]

## وکيل
هغه شخص چې د بل چا له خوا د وکالت د عقد له مخې د يوه امر او يا امرونو د ترسره کولو لپاره ګومارل شوی وي.

(وکالت ته دې مراجعه وشي). درى:[وکيل]

## ولاء
هغه حکمي قرابت چې د عتق او موالاتو څخه منځ ته راځي. درى: [ولاء]

## ولايت
ولايت هغه واکمني ده چې شخص يې د شرعي او قانون سره سم د بل چا پرمال او ځان پيدا کوي. درى:[ولايت]

## ولد زنا
هغه شخص چې د نا مشروع جنسي اړيکي په پايله کې نړۍ ته راغلی او شرعي پلار ونلري. درى: [ولد زنا]

## ولسي جرګه
د ملي شورا يو مجلس دی چې د هغې د غړيو په واسطه د عمومي، سري، آزادو او مستقيمو آراؤ په پايله کې د اساسي قانون سره سم انتخابيږي. درى:[ ولسى جرګه]

## ولګرد
هغه شخص دی چې د کوم مشروع کسب او کار خاوند نه وي. درى:[ولګرد]

## ولګردي
بې ګټې ګرځېدنې، آواره ګۍ او بيکارۍ ته ويل کېږي.
درى:[ولګردى]

## ولي
هغه شخص دی چې پر صغير ماشوم يا غير رشيد باندې ولايت لري. درى:[ولى]

## وياله
د اوبو د بهير لپاره کېندل شوی مسير، چې په خاصه او عامه توګه شتون موندلای شي. درى: [جوى]

## ويالې حق
له عرف او قانون سره سم عقار پورې د ارتفاق د حقوقو له جملې څخه يو دی. درى: [حق جوى]

## وينه
له يوې حياتي لزجې مادې څخه عبارت ده چې سور رنګ لري، خوند ئې تر يو دی او خاص بوی لري.
درى: [خون]

**وېش**

د شریکې حصې او یا د نا معلومو برخو یا سهامو ټاکلو ته ویل کیږي چې د شریکې حصې د یوې برخې جدا کول د بلې برخې څخه د شریکانو په رضایت او یا د محکمې په حکم صورت نیسي. دری:[تقسیم]

**ویزه**

هغه مهر لرونکی اجازه لیک دی چې د بهرنیو اتباعو لپاره بل هېواد ته د ننوتلو، وتلو او استوګنې لپاره په پاسپورت او یا جلا پاڼه کې صادریږي. دری:[ویزه]

**ویعه وضیعه**

د لومړي ثمن څخه په ټیټه بیه خرڅلاو ته ویعه بیع ویل کیږي. (بیع ته دې رجوع وشي). دری:[بیع وضیعه]